بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بيه ميراث چې اهلبيتو(ع) له ځانه وروسته پريخے دے او د هغوي لارويانو هغه له ورک شونې څخه ساتلے دے د مکتب يوه کامله بيلګه ده چې د اسلامي علومو بيلا بيلې څانګې لري. او د علم ډير تږي يې له دې چينې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان يې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبيتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بيلا بيلو سوالونو، شبهو فکري بې لاريو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پيړيو کې يې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري يې اختسې ده ـ د رسالت له حريمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندے شوے ده. هغه حقيقتونه چې د بيلا بيلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو هميشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړے دے. د اهلبيتو نړيواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبيت (ع) د ريښتني لارويانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې هميشه دې تهمتونو لرې کولو ته تيار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانے د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبيتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخيره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاويږي. ځکه چې دا تجربې او دليلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځايه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دليلونه ومني او قبول يې کړي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې دا کوښښ کړے دے چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، ليکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول کړے دے، کتابونه چاپ کړي او د حقيقت د چينې ترږو ته يې وړاندې کړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليکل شوې کتابونه او تحقيقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقيقت د لټوونکو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کيدو دے، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفے غوندې پريخي دي غوږ کيدي.

هيله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپروني کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدايه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې يې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کيدو کې يې له مونږ سره مرسته کړې، په بيله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# دريم امام حضرت امام حسين عليه السلام

د هجرت په څلورم كال د شعبان د مياشتې په دريمه نېټه د حضرت امام علي عليه السلام او بي بي فاطمې (ع) دويم بچے امام حسين عليه السلام د وحي او ولايت په كور كې وزيږدۀ. كله چې پيغمبر(ص) د دۀ له زوكړې خبر شو نو د امام علي عليه السلام او بي بي فاطمه (ع) كور ته ورغے او اسماء ته يې وفرمايل[1] چې دا بچے ورولي. اسماء امام حسين عليه السلام په سپينې كپړې كې ونغښتۀ او د خداي د رسول(ص) خدمت

1 . كيدے شي له اسما نه مراد د يزيد بن سكن لور وي. ر.ک: اعيان الشيعه جز11 ص168 د اهلسنتو د ذخائر العقبے كتاب په 120 مخ باندې د اسماء بنت عميس نه روايت شوے دے.

ته يې يوړو ګران رسول (ص) د هغۀ په ښي غوږ کې بانګ او ګس غوږ کې اقامت وويې.[1]

د زوکړې په لومړيو ورځو يا اوومه ورځ جبرائيل نازل شو[2] او وې ويل اے رسوله(ص) په تا باندې د خداي سلام وي. په دې ماشوم باندې د هارون عليه السلام د وړوکي ځوي شبير نوم کيږده چې په عربۍ کې ورته حسين واې[3] ځکه چې علے عليه السلام تا ته داسي دې لکه موسے بن عمران ته چې هارون ؤ خو فرق يوازې دا دے چې تۀ وروستے پيغمبر(ص) يې. او په دې ډول د بي بي فاطمه (ع) په دويم ځوي باندې خداي پاک حسين عليه السلام نوم کيښود. د زوکړې په اوومه ورځ بي بي فاطمې (ع) د هغۀ د عقيقې په توګه ګډه حلاله کړه . د امام حسين عليه السلام سر يې وخرئيۀ او د هغۀ د ويښتو په وزن يې سپين زر صدقه کړل.[4]

1 . امام شيخ طوسي ج1 ص 377، ذخائر العقبے ص120.

2 . معاني الاخبار ص57 ذخائر العقبے ص120 مستدرک الصحيحين ج4 ص277. مسند احمد بن حنبل ج1 ص159.

3 . هماغه.

4 . په اسلامي سرچينو کې د عقيقې په حقله ډيره سپارښتنه شوې او د بچي د سلامتيا لپاره يې ډيره اغيزمنه بللې ده. صحيح نسايي ج2 ص189 تاريخ بغداد ج10 ص157، مستدرک الصحيحين ج4 ص237. سنن بيهقي ج9 ص299.

# امام حسين عليه السلام او پيغمبر(ص)

د هجرت په څلورم کال د امام حسين عليه السلام د زوکړې له وخت څخه د خداي رسول (ص) تر وفاته پورې چې دا ټوله موده شپږ کاله او څو مياشتې کيږي خلق د هغې مينې او محبت له امله چې پيغمبر(ص) له هغهٔ سره لرله د هغه په لويې مقام او لوړاوي پوه شول.

سلمان فارسے رضي الله عنه وائي : يوه ورځ مي وليدل چې د خدائي رسول(ص) حسين عليه السلام په زنګون کښينولے ، ښکلوي يې او فرمايي : تهٔ پخپله لويې يې ، د لويې پلار ځوې، او د لويو زامنو پلار يې، تهٔ په خپله امام، د امام ځوې او د امامانو پلار يې، تهٔ د خداې حجت، د خداې د حجت ځوې او د خداې د نهو حجتونو پلار يې چې ورستے يې د زمانې امام مهدي دے.[1]

د انس بن مالک نه روايت دے: يوه ورځ له پيغمبر(ص) پوښتنه وشوه چې په خپلو اهلبيتو کښې درباندې څوک ډير ګران دے؟ وې فرمايل چې حسن عليه السلام او حسين عليه

1 . مقتل خوارزمي ج1 ص146 کمال الدين صدوق ص152

السلام[1] د خداي رسول به اکثره حسنيان خپلې سينې ته جختول، بويول او ښکلول به يې.[2]

ابو هريره وايي: د خداي رسول(ص) امام حسن عليه السلام او امام حسين عليه السلام په اوږو کيښنولي وو او زمونږ په لور روان ؤ کله چې مونږ ته راورسيد نو وې فرمايل څوک چې زما د دغو دوو بچيو سره مينه وکړي له ما سره يې مينه کړے او څوک چې ورسره دښمني وکړي له ما سره يې دښمني کړې ده [3]

له امام حسين عليه السلام سره د پيغمبر(ص) د مينې انتها د خداي رسول (ص) له دے حديثه معلومولے شو چې فرمايي: "حسين منے و انا من حسين" حسين عليه السلام له ما څخه دے او زهٔ له حسينه يم"[4]

امام حسين عليه السلام د خپل عمر شپږ کاله له پيغمبر(ص) سره تير کړل او چې کله هغه مبارک له دنيا

---

1 . سنن ترمذي ج5 ص323 فيض القدير ج1 ص148.

2 . ذخائر العقبے ص122.

3 . ابن ماجه فضائل حسن و حسين عليهما سلام، کنوز الحقائق ص134، مسند ابو داؤد طيالس ج10 ص332. الاصابه ج11 ص330.

4 . سنن ترمذي ج5 ص324 ابن ماجه باب فضائل اصحاب رسول الله(ص) کنز العمال ج6 ص221.

سترګې پټې کړې نو پاتې دیرش کاله یې له پلار سره ژوند وکړو. داسې پلار چې بې له انصافه یې کوم حکم نۀ ؤ کړے او عمر یې د خداي په عبادت او پاکۍ کې تیر شوے ؤ هر څه یې د خداي لپاره کول او تل یې د خداي رضا غوښتله. د حضرت علے علیه السلام د خلافت په وخت امام حسین علیه السلام د اسلامي مقصدونو د کامیابۍ لپاره د خپل ورور امام حسن علیه السلام په شان په بهادرۍ او فداکارۍ سره کوشش کولو او د صفین جمل او نهروان کې په جنګونو کې یې ګډون درلود.[1]

د حضرت امام علے علیه السلام له شهادته وروسته د خداي د رسول (ص) له حکم او د امیرالمؤ منین حضرت امام علے علیه السلام له وصیت سره سم امامت او مشري د حضرت امام حسن علیه السلام په اوږو راغله. امام حسین علیه السلام له خپل ورور سره په ټوله موده کې یو فکرې او غړملې ؤ. او چې کله د اسلام او د مسلمانانو د ټولنې د مصلحتونو په وجه امام حسن علیه السلام له معاویه سره سولې ته مجبوره شو نو امام حسین علیه السلام ورسره په ټولو سختیو او کړاوونو کې شریک ؤ او په دې پوهیدو چې دا سوله د اسلام او مسلمانانو په ګټه او مصلحت ده نو هیڅ کله یې په خپل ورور امام حسن علیه السلام اعتراض ونۀ

1 . الاصابه ج1 ص333.

کړو او حتی یو ورځ چې معاویه د امام حسن علیه السلام او امام حسین علیه السلام په امام حسن علیه السلام او حضرت امام علي علیه السلام پسې بد رد شورو کړل نو امام حسین علیه السلام دفاع ته پاڅید چې د معاویه خبره غوڅه کړي او د بدو ردو ځواب ورته ووایي. خو امام حسن علیه السلام ورته وویل چې چپ شه ، امام حسین علیه السلام هم ومنله او امام حسن علیه السلام پخپله د معاویه ځواب ته پاڅید او په مدللو او ځپونکو خبرو سره یې هغه خاموش کړو.[1]

چې کله امام حسن علیه السلام له دنیا مخ پناه کړو نو د مسلمانانو مشري او امامت امام حسین علیه السلام ته پاتې شو او د خداي لخوا د ټولنې په مشرۍ مامور شو امام حسین علیه السلام لیدل چې معاویه د اسلامي حکومت په ګدۍ ناحقه ناست دے او د خداي د احکامو، د دین د بنیادونو اواسلامي ټولنو د اصولو په خرابولو مشغول دے.امام د دې خرابوونکي حکومت په کړو ډیر خفه ؤ خود دې وس یې نه لرلو چې کسان برابر کړي او هغه د اسلامي حکومت له ګدۍ راکوز کړي لکه څنګه چې د امام حسن علیه السلام حالت هم دا شان ؤ.امام حسین علیه السلام پوهیدو چې که خپل نیت ښکاره کړي او د کسانو په برابرولو لګیا شي نو معاویه به

1 . اسدالغابه ج2 ص13 ارشاد مفید ص173.

يې ديو ګټه ور طاقت او فوځ تر جوړولو مخکې شهيد کړي. مجبورا غلے کیښناست او له صبره يې کار واخستوځکه چې که پاڅیدلے وے نو له هر اقدامه مخکې به شهید کړے شوے ؤ او نتيجه به يې هم هيڅ نۀ وه نو تر څو چې معاويه ژوندې ؤ امام د خپل ورور امام حسن علیه السلام په شان ژوند تير کړو او کوم لويې مخالفت يې ونۀ کړو.صرف کله کله به يې د معاويه په غلطو کارنو نيوکه او نکونه کول او خلقوته به يې د راتلونکي هيله ورکوله چې انشاءالله موثره ګام به پورته کړي.

په هغه ټوله موده چې معاويه د يزيد د ولي عهدۍ لپاره له خلقو بيعت اخستو امام حسین علیه السلام په کلکه هغه سره مخالفت وکړو، هيڅ کله يې بيعت ونۀ کړو او هغه ولي عهدي يې ونۀ منله. او کله کله به يې معاويه ته سختې خبرې کولې او سخت ليکونه به يې ورته ليکل.[1] معاويه هم د يزيد د بيعت لپاره په هغۀ ټينګار ونۀ کړو او دا حالت همداسې پاتې شو تر دې چې معاويه مړ شو.

# حسيني پاڅون

يزيدله معاويه وروسته د اسلامي حکومت په تخت کیښناست او ځان ته يې اميرالمؤمنين ويل پيل کړل او د دې

---

1 . رجال کشي ص94 کشف الغمه ج2 ص206.

لپاره چې خپل ناحقه او ظالمانه حکومت کلک کړي فيصله يې وکړه چې اسلامي شخصيتونو او لويانو ته ليک واستوي او بيعت ترې واخلي نو د مدينې حاکم ته يې ليک واستولو او وې ليکل چې له حسينه زما بيعت واخله او که مخالفت يې وکړو نو شهيد يې کړه .حاکم دا خبره امام حسين عليه السلام ته ورسوله او ځواب يې تر وغوښت. امام حسين عليه السلام په ځواب کې وفرمايل " انا لله و انا اليه راجعون و علی الاسلام السلام، اذا بليت الامة براع مثل يزيد"[1] (کله چې د يزيد په شان (مکار، شراب خور، بې ايمانه او ناپاکه کس چې د اسلام د ظاهرو خيال هم نۀ ساتي) د اسلامي حکومت په ګدۍ کيښني نو د اسلام فاتحه دې ولوستل شي ځکه چې داسي چاروا کي د اسلام په نامه او د اسلام په طاقت، اسلام له منځه وړي).

امام حسين عليه السلام پوهيدۀ چې د يزيد حکومت يې په رسميت نۀ دے پيژندلے او کۀ په مدينې کې پاتې شي دوي به يې شهيد کړي. نو د شپې او په پټه له مدينې څخه مکې ته روان شو د مکې او مدينې په خلقو کې د هغوي د تللو او د بيعت نۀ کولو قيصه خپره شوه او دا خبر کوفې ته هم ورسيد. امام حسين عليه السلام لا په مکې کې ؤ چې کوفيانو ورته بلنه وکړه چې کوفې ته ورشي، د هغوي مشر شي او د کوفې

1 . مقتل خوارزمي ج1 ص 184، لهوف ص20.

چارې په لاس کې واخلي. امام حسین علیه السلام خپل د ترۀ ځوي مسلم بن عقیل کوفې ته ولیږۀ چې په کوفې کې د خلقو خوځښت او غبرګون له نزدې وګوري او بیا امام حسین علیه السلام ته ټول حالات ولیکي. په کوفې کې خلقو د مسلم تود هر کلے وکړو او په زرګونو خلقو د امام حسین علیه السلام د نائب په توګه د هغۀ بیعت وکړو حضرت مسلم امام حسین علیه السلام ته لیک واستوؤ او وې ویل چې ټول خلق تیار دي بس تۀ روان شه.

کۀ څه هم امام حسین علیه السلام کوفیان ښۀ پیژندل او د خپل پلار او ورور د حکومت په وخت یې د هغوي بې وفایي او بې دیني لیدلې وه او پوهیدۀ چې د دوي په خبرو او له مسلم سره په بیعت اعتماد نشي کیدے خو د حجت د تمامولو، د غاړې خلاصولو او د خداي د حکم د پوره کولو لپاره کوفې ته روان شو.

سره له دې د ذي الحجې تر اتمې نیټې پورې په مکه کې پاتې شو یعني هغه ورځ چې د مکې ټول خلق منے ته روان وو او څوک هم چې د مکې په لار کې پاتې وؤ. زر تر زره یې غوښتل چې مکې ته ځان ورسوي. امام په مکه کې پاتې شو او هغه ورځ له خپلو اهلبیتو او یارانو سره له مکې څخه عراق ته روان شو. په دې کار سره یې هم خپل فرض پوره کړو او هم یې خلقو ته وښودل چې د پیغمبر(ص) ځوي، یزید په رسمیت

نۀ دے منلے او د هغه بیعت یې نۀ دے کړے بلکه د هغه په خلاف یې قیام کړے دے.

یزید چې کله کوفې ته د مسلم له رسیدو او د کوفیانو له بیعته خبر شو نو ابن زیاد یې چې د یزید ډیر پلیت ملګرے او د بني امیه ناپاکه پلوي ؤ ، کوفې ته ولیږلو ابن زیاد د خلقو له شک منافقت او ویرې استفاده وکړه او په زور او ویرې یې هغوي له مسلمه جدا کړل او حضرت مسلم په یوازې سر د ابن زیاد له تالي څټو سره په جنګ شو او له یو فداکاره او سر ښیندونکي جنګه وروسته شهید شو.

ابن زیاد د کوفې منافق، بې ایمانه او خائن خلق د امام حسین علیه السلام سره جنګ ته وهڅول او حتے ځینې هغو کسانو هم چې امام حسین علیه السلام ته یې لیکونه استولي وؤ، له امام حسین علیه السلام سره جنګ ته ملا وتړله او دې ته سترګې په لاره وو چې امام حسین علیه السلام راشي او دوي یې شهید کړي.

امام حسین علیه السلام له مدینې څخه د تللو په شپه، په مکه کې له مکې څخه تر کربلا اوحتے د کربلا تر پیښې پورې په اشارو سره او کله کله په څرګنده ویل چې کربلا ته زما د تللو مقصد د یزید د اسلام مخالفه حکومت رسوا کول ، د امر بالمعروف او نهے عن المنکر کول او د ظلم او زیاتي په وړاندې ودریدل دي او د قران او اسلام له ژوندي ساتلو پرته کوم هدف نۀ لرم.

دا داسي دنده او فرض ؤ چې خداي هغه ته سپارلي وو حتے که په دې لاره کې يې بچي کورنۍ او ملګري هم شهيدان شوي او کورنۍ يې بندي شوه. د خداي رسول، حضرت امام علے علیه السلام، او امام حسن علیه السلام څو څو ځله د امام حسین علیه السلام د شهيديدو قيصې ته اشاره کړے وه حتے د امام حسین علیه السلام د زوکړې په وخت هم ګران رسول (ص) د هغه د شهادت يادونه کړې وه.

په کربلا کې د حسین علیه السلام د شهادت په موضوع په اسلامي ټولنه کې دومره زياتې خبرې شوې وې چې عام خلق د دې سفر له انجامه خبر وؤ ځکه چې ډير ځله يې د ګران رسول(ص) او حضرت امام علے علیه السلام دا خبره اوريدلې وه. په دا ډول د امام حسین علیه السلام سفر دهغوي د شهادت احتمال په ذهنو کې زيات کړو په تيره بيا دا چې امام حسین علیه السلام به په ټوله لاره فرمايل :" من کان باذلا فينا محجته و موطنا علے لقاء الله نفسه فليرحل معنا[1]؛ څوک چې دې ته تيار وي چې زمونږ په لاره کې له سره تير شي او د خداي پاک ملاقات ته لاړ شي نو راځي دې له مونږ سره"

په همدې وجه د دوي ځينو ملګرو وغوښتل چې له دې سفره يې منع کړي. خو د امام علے علیه السلام ځوې او د پيغمبر(ص) جانشين له خپلې دندې او فرض ښه خبر ؤ او

1 . لهوف ص53.

خدائې چې ځۀ د هغۀ په غاړه اچولي وۀ له هغې ډډه نۀ کوله امام حسين عليه السلام خپله لاره جاري وساتله او په فيصله کې يې ځۀ خنډ رانغې.

بالاخره لاړ او د شهادت درجې ته ورسيد او هغه هم يوازې نه ، بلکه له داسي يارانو او بچيو سره چې هر يو د اسلام يو ځلاند ستورے ؤ. ټول شهيدان شول او وينو يې د کربلا دشته خړوبه کړه د دې لپاره چې اسلامي ټولنه پوهه شي چې د بني اميه پليد بچے د پيغمبر(ص) جانشين نۀ دے او اسلام له بني اميه ؤ جدا دے.

تاسو چرته دا سوچ کړے دے چې که د امام حسين عليه السلام سرښيندونکے او مظلومانه شهادت نۀ ؤ او خلقو يزيد د پيغمبر(ص) جانشين او ځاې ناستې ګڼلے او د يزيد او د هغه د مزدورانو او ملګرو د شهوتونو او غلطو کارونو خبرونه يې اوريدل نو له اسلامه به يې سومره کرکه پيدا کيدله . ځکه چې داسې اسلام چې د پيغمبر(ص) ځاې ناستې يې يزيد وي په حقيقت کې د کرکې اونفرت لايق دے.

او د امام حسين عليه السلام پاکه کورنۍ هم بندي شوه چې د دې شهادت ورستے پيغام خلقو غوږونو ته ورسوي. او تاسو به اوريدلي وي چې د امام کورنۍ په ښارونو، بازارونو، جماتونو او حتے د يزيداو ابن زياد په سا ډبوونکو دربارونو کې خلۀ خلاصه کړه، فرياد يې وکړو او د بني اميو د پليتې څيرې او د دغو سړي خورو او زبيښونکو له مخونو يې پرده

هسکه کړه او ثابته یې کړه چې هغه یزید چې سپو سره لوبې کوي او شراب خور دے، په هیڅ طریقه د خلافت لیاقت او وړتیا نۀ لري او د اسلام دا ګدۍ د هغۀ ځایې نۀ دے. د دوي خبرو او ویناؤ و امام حسین علیه السلام د شهادت پیغام او مقصد پوره کړو او په روحونو کې یې طوفان راوست څکه چې د یزید نوم تر ابده د پستۍ، رذالت او پلیتۍ سمبل شو او ټولے شیطاني ارزوګانې یې شنډې شوې او هغه یزید چې ویل به یې "نۀ وحي راغلي ده او نۀ قران نازل شوے دے دا هر څه بني هاشمو او پیغمبر(ص) له ځانه جوړ کړي چې خلق وغولوي" د تل لپاره په خپل ناپاکو موخو کې ناکامه شو.

د هغوي له هماغه شهادته راسې تر اوسه هر کال د امام حسین علیه السلام ملګري او منوونکي د محرم په لومړیو ورځو کې د هغوي غم نمانځي او د هغوي په مصیبتونو ویر کوي چې په دې طریقه ثابته کړي چې د امام حسین علیه السلام مشن او مقصد چې هماغه د پیغمبر(ص) مقصد دے، ژوندے دے. او مونږ په هره زمانه کې د هر ډوله یزید او ظالم مقابلې ته تیار یو.

امام صادق علیه السلام فرمایي چې ژړا او بې تابي په هیڅ موقعه ښه نۀ ده. یوازې د امام حسین علیه السلام د شهادت په مناسبت چې ثواب یې هم ډیر دے.

کۀ څه هم د امام حسین علیه السلام په مصایبو او کړاوونو ژړل ډیر ښۀ کار دے خو مقصد یوازې ژړا نۀ ده بلکې

دا ټولې خبرې باید د دې لپاره وي چې مونږ د امام حسین علیه السلام له دره څۀ زده کړو او د هغۀ په مقصد لاړ شو که نۀ وي نو یوازې په ژړا سره به د هغوي پاک هدف ورو ورو هېر شي.

## د امام حسین علیه السلام اخلاق او کردار

د امام حسین علیه السلام په شپږ کلن عمر چې نظر واچوؤ نو وینو چې د هغوي ټول وخت په پاک لمنځ، بندګۍ، د پیغمبر(ص) د دین په تبلیغ او د لوړو مفاهیمو په خپرولو کې تېر شوے دے.

هغه حضرت له مانځه دعا او له خداي سره له راز و نیاز سره ډېره مینه لرله. کله کله به یې په شوا روز کې په سلګونو رکعتونه مونځونه کول[1] او حتے د ژوند په وروستۍ شپې کې یې هم مونځ او دعا پرے نۀ ښوده او د شهادت په وخت یې له دښمنانو دومره مهلت وغوښتو چې له خداي سره راز و نیاز او مونځ وکړي او وے فرمایل خداي خبر دے چې زۀ له مانځۀ د قران له تلاوت او دعا او استغفار سره څومره مینه لرم.[2]

ابن اثیر په اسد الغابه کتاب کې لیکي:

---

1. عقدة الفرید ج2 ص143.
2. ارشاد مفید ص214.

كان الحسين رضي الله عنه فاضلاً كثير الصوم والصلوة والحج والصدقة و افعال الخير جميعاً.[1]

امام حسین (ع) به ډیره زیاته روژه نیوله، مونځ به یې کوو، حج ته به تللو، صدقه به یې ورکوله او ټول ښه کارونه به یې کول، د حسین علیه السلام شخصیت دومره لوړ او پرتمین ؤ چې کله له خپل ورور امام حسن سره پیاده حج ته روان ؤ نو ټول بزرګان او اسلامي شخصیتونه د دوي په احترام کې له خپلو سورلو کوز شول او له دوي سره یې ټوله لاره پیاده ووهله.

د هغه وخت ټولنې به ځکه د امام حسین علیه السلام ډیر قدر کولو چې امام به له خلقو سره ګډ او شریک ژوند کوو. له هغو به یې څنډه نه کوله، له معاشرې سره عږ ملےؤ او تر ټولو لویه دا چې په خداي باندې د هغوي بې کچه ایمان هغه د خلقو او اولس غمخور ګرځولےؤ که نه نوله هغه سره نه ماڼۍ وې، نه محلونه وو و نه سپایان او غلامان، او هیڅ کله یې د لویو خلقو او جبارانو غوندې ژوند نه کوو او له خلقو یې نه غوښتل چې مثلاً د پیغمبر(ص) د زیارت په وخت هغه ته زیارت خالي کړي.

شعیب بن عبدالرحمان خزاعي وایي: کله چې امام حسین علیه السلام شهید شو نو د هغوي په ملا د یو زوړ زخم داغ

---

1 . اسد الغابه ج2 ص20.

وليدل شو چې کله يې له امام زين العابدينه (ع) د هغه داغ پوښتنه وکړه نو هغوي وفرمايل دا داغ د ډوډۍ او اوړو و هغو بوجو داغ دے چې پلار مې د شپې په شا کولې او کونډو يتيمانو او فقيرانو کره به يې وړې.

علائلي په "سموالمعنے" کتاب کې ليکې: "د انسانانو په تاريخ کې لوي لوي کسان شته چې هر يو په يو خاص ډګر او خاص صفت کې ډير زيات مشهور شوے دے. مثلا ځوک په ميړانتيا کې مشهور دي ځوک په سخاوت کې او ځوک په داسې نورو صفتونو کې، خو د امام حسين عليه السلام عظمت او لوي والے ډير زيات دے چې هر يو اړخ يې د هغوي د تاريخي عظمت ښودنه کوي ګوندې په هغه کې ټولې خوبۍ او ښه صفتونه جمع دي".

امام حسين عليه السلام د هغه د ژوند او مرګ قيصه د هغوي وينا او کردار نه يوازې د تاريخ د يو لوي شخصيت نمونه ده بلکې هغه په خپل ټول وجود سره د فضيلتونو، لوي والي، سرښيندنو، فداکاريو او خداي غوښتنو صفا هنداره هم ده.

# د عرفې د ورځ دعا

دوي ډیرځله پیاده حج کړے ؤ[1] د غالب اسدي زامن وايي د عرفې د ورځ په مازیګر د عرفات په دشته کې له امام حسین(ع) سره وو، هغه حضرت ډیر په عاجزۍ او خشوع سره له خیمې راووت او له یو شمېر اصحابو سره د غرۀ په ګس اړخ ودرید، مخ يې د کعبې په لور واړوو او د یو کمزوري حاجتمن او سوالګري په شان يې اسمان ته لاسونه اوچت کړل او دا دعا يې وکړه: (د دعا د ځینې برخو ترجمه)

"حمد و ثنا د هغه خداي ده چې هیڅ یو څیز د هغه قضا او غوښتنه نه شي درولے او د هغه د بخښنې مخه نشي نیولے. په سخاوت او کرامت کې د هغه لاس خلاص دے او هر یو څیز يې په خپل حکمت سره نیک او مناسب جوړ کړے دے څوک چې پټ کارونه او عملونه کوے خدایي ته پټ نه دي او څه چې هغه ته وسپارل شي نه ضایع کیږي.

اے لویه خدایه! تا ته ولاړ یم، تا ته مې پناه راوړې ده او ستا په خدايي توب ګواهي ورکوم اعتراف او اقرار کوم چې ته زما پنځوونکے يې او هم تاته به درګرځم تر دې مخکښې چې زه څه جوړ شم. په ما دې نعمت وورولو او زه دې له خاورې پیدا کړم، بیا دې زه صحیح او سالم دنیا ته راوستم.

---

1 . مناقب ابن شهر اشوب ج3 ص224. اسد الغابه ج2 ص20.

په وړوکوالي کې دې په زانګو کې له هرې بلا وساتلم او د خوړو خواراکونو پې، دې زما روزي کړل، د روزونکو زړه دې په ما مهربان کړو او زړه سواندې مور دې زما روزنې ته وبلله، زۀ دې له پټو شرونو او پيريانو وساتلم او له کمۍ زياتۍ دې په حفاظت کې کړم، نو اے لويه خدايه! اے رحيمه او رحمانه! نو کله چې زه په خبرو شوم په ما دې خپل نعمتونه وورول او په کلونو کلونو دې زه لوي کړم تر دې چې خلقت مې بشپړ شو.

خدايه! زۀ ستا کوم کوم نعمت ياد کړم يا ستا د کومو لورينو او پيرزوينو شکر وکړم ځکه چې ستا نعمتونه او بخښنې تر دې زياتې دي چې شمېرونکي يې وشمېري، يا پرې حساب کوونکي خبر شي، هغه بلاګانې او کړاوونه چې زه دې ترې ساتلے يم له هغې سلامتۍ، روغتيا او اسانيو زياتې دي چې ماته دې راکړي دي، خدايه! زۀ تا د خپل ايمان په حقيقت ګواه نيسم او که فرضا ټول عمر ژوندے پاتې شم او وغواړم چې ستا نعمتونه وشمارم بيا هم د دې توان نه لرم، خدايه ما داسې کړه چې له نا داسې وويرېږم لکه تا چې وينم او ما د پرهيزګارۍ او تقوي په نعمت نيکمرغه کړه او د ګناه او نافرمانۍ په وجه مې مه بد دختوه.

اے لويه خدايه! ما ته په روح او بدن کې بې نيازي، په زړه کې يقين، په عمل کې اخلاص، په سترګو کې رڼا او په دين کې بصيرت او سترګې عطا کړه. خدايه! که ستا نعمتونه شمېرل غواړم نو نه يې شم شمېرلے. اے پروردګاره! ستا کرم

او سخا ډېره زياته ده او ټوله ثنا ستا ده. خدايه زه په خپلو ګناهانو داده کيږم، ما وبخښې او له ګناهونو مې تېر شې".

دا دعا ډېره اوږده ده او ډېره زړه راښکونکې ده خو ما د اختصار لپاره دا لږه غوندې ذکر کړه. (دا ټوله دعا شيخ عباس قمي(رح) په خپل کتاب "مفاتيح الجنان" کې نقل کړې ده)

هغه ورځ امام حسين د دې کتاب په لوستو سره زړونه داسې خداي ته راکاږل چې ټولو کسانو وژړل او دې دعا ته يې امين وويې.

## د امام حسين عليه السلام ځينې ويناوې

✸ امام حسين عليه السلام خپل زوے امام زين العابدين ته په وصيت کې فرمايي: اے زويه! له ظلمه ځان وساته، په تېره بيا په داسې کسانو له ظلمه چې له خدايه پرته بل څوک نه لري (ځکه چې خداي د داسې مظلوم بدله ډېر زر اخلي)

✸ يو سړي له امام حسينه وغوښتل چې د دنيا او اخرت د ښېګړې په حقله ورته څۀ وليکي، امام حسين عليه السلام ورته وليکل: بسم الله الرحمن الرحيم. څوک چې د خداي رضا غواړي او د خداي خوشحالي د خلقو په غصې خرڅه نه کړي، نو خداي به يې په هره چاره او د خلقو په چارو کې بې نيازه کړي او څوک چې د خلقو رضا غواړي او د خلقو خوشحالي او

رضا د خداي په غصه واخلي نو خداي يې خلقو ته پرېږدي (يعني خداي ورځنې خپل کرم او رحمت واخلي)

✸ امام حسين عليه السلام ته يو سړے راغے او ورته يې وويل چې زه په ګناهونو کې پټ يم او له خپلو ګناهونو نه شم تښتيدلے. ما ته نصيحت وکړه. امام حسين عليه السلام ورته وفرمايل چې پينځه کارونه کوه نور چې دې زړه کومه ګناه غوښتله کولے يې شې:

1. د خداي له نعمتونو استفاده مه کوه، هله ګناه ته مخ اړوه.
2. که د خداي له دنيا، حکومته او سرپرستۍ وتلے شې نو ګناه کوه.
3. داسې ځاي ته لاړ شه چې خداي دې نه وينے، بيا چې دې څه زړه غوښتل کوه يې.
4. که د مرګ په وخت خپل روح د خداي له فرښتې ساتلے شې نو کومه ګناه چې دې خوښه وي کوه يې.
5. او که دا طاقت لرې چې کله دې د دوزخ په اور کې اچوي نو ته ترې ځان بچ کړې نو بيا هم ګناه کولے شې.

(نو ته دا پينځه کارونه نه شې کولے پکار ده چې ګناه ونه کړې)

✸ امام حسين عليه السلام وفرمايل: اے انسانه! ستا هستي او پانګه (سرمايه) ستا عمر دے. ستا د عمر هره ورځ چې تيرېږي، ستا د وجود يو ټوټه کميږي (نو پام کوه چې له عمره دې سمه استفاده کوې او که نه هغه فضول او بې ځايه تېروې)

✸ له امام حسين عليه السلام څخه وپوښتل شول چې په څنګه حال کې دې صبح کړه يعنې سهار په څنګه حال کې راپاڅيدې؟ امام وفرمايل: په داسې حال کې راپاڅيدم چې زما خداي او پروردګار ما وينې، د جهنم اور زما په وړاندې دے او مرګ راپسې دے چې راومې نيسي، په دنيا کې او اخرت کې مې هر څه په حساب کتاب دي او زۀ په خپلو اعمالو پړ يم. داسې نه ده چې څه غواړم هغه وشي او ورته ورسيږم او څه چې مو نه دي خوښ او نه يې غواړم. له ځانه لرې کړے شم ځکه چې ټولې چارې د بل چا (خداي) په لاس کې دي که وغواړي عذاب راکوي او که خوښه يې وي بخښي مې. نو کوم يو فقير تر ما ډير فقير دے.

✸ امام حسين عليه السلام فرمايي: ځينې کسان د جنت او بهشت په اميد د خداي بندګي کوي چې دا بندګي او عبادت د تاجرانو او سوداګرانو عبادت دے، ځينې خلق د جهنم له ويرې د خداي عبادت کوي چې دا د غلامانو او مريانو عبادت دے، (يعنې که د مالک له سزا ونه ويريږي خبره نه منې) او ځينې کسان د خداي عبادت د شکر او د نعمتونو د منني او شکريه لپاره کوي چې دا د ازادو او پتمنو عبادت دے او دا د عبادتونو تر ټولو لوي او ښه ډول دے.

✸ خداي تعالي د هيچا طاقت تر هغه وخته نه کموي چې فرائض او واجبات يې کم نه کړي او د چا وس تر هغه وخته نه

کموي چې ذمه واري او دندې يې کمې کړي (يعنې هر چاته د هغه د طاقت او وس مطابق ذمه وارے او فرض سپاري).

✸ ستاسو بدله له جنته علاوه بل څۀ نه ده نو ځان په نورو مه خرڅوئ ځکه څوک چې په دنيا راضي شي (يعنې مقصد يې يوازې د دنيا ګټل وي) نو په ډير سپک او پست شي راضي شوے دے.

✸ د حقو له منني او پيروي علاوه عقل په بل څه نه کامليږي.

✸ د تيرو نعمتونو شکر د دې سبب کيږي چې خداي پاک تا ته نور نعمتونه درکړي.

✸ يوازې هغه کس امانت دار بوله چې له خدايه ويريږي.

✸ له امام حسينه پوښتنه وشوه فضيلت او لوړاوے په څه کې دے؟ وې فرمايل: د ژبې مالکيدل (يعنې په خپلې ژبې کنټرول) او نيکي او ښيګړه کول.

## شهادت

لکه څنګه چې مخکښې هم اشاره وشوه امام حسين عليه السلام له خپلو اهلبيتو او ملګرو سره د کربلا په دشته کې د يزيد ملعون د پوځيانو او شمر ملعون په لاس د هجرت په يوشپيتم کال د محرم د مياشتې په لسمه نيټه د دريو ورځو تږې په ډير ظلم سره شهيد شو. خداي دې اروا ښاد لري.